# د خدائي خدمتګار تحريک په غېږه کښې زېږدېدلي پښتو ټپې

# Da Khudai Khedmatgar Tehrek Pa Ghaega Ka Zaegadala Tapy

Dr. Akhter Iqbal Yousafzai*

**ABSTRACT**

Pashtu Tappa one of the most popular folklore of Pashtu literature that reflects aspirations of the people, has played a key role in the resistance movements throughout the history. Tappa included to verses the first one short and the second longer; encapsulate a huge message which is quoted often as a source of wisdom by most of the Pashtuns contextually. There are numerous instances in history that tappas has acted as catalyst of uprising and symbolism while appeals for resisting foreign rule have been made. The resistance movements against the Mughals, the Sikh rule and the British Empire have remained one of the themes that make tappa a popular Pashtun folklore. In this paper the movement of khudai khidmat gar as depicted by the tappa is highlighted. It is argued that tappa not only celebrated the heroism of the followers of Khudai khidmath gar movement and the leadership of Khan Abdul Ghafar Khan but also spread the awareness about the freedom and resisting foreign rule.

Key Words: Tappa, Khudai Khidmath gar Movement, Khan Abdul Ghafar Khan, Resistance, Nationalism, Freedom Struggle, and Pashtun uprisings, Pashtun History

**Keywords**: Khudai Khidmatgar Movement, Folklore, Pashto Tappa, resistence

اولسي ادب د يو قوم د کلتور تاريخ، تهذيب، تمدن او د ټولنيز ژوند هنداره ده. اولسي ادب د انسان د ژوند سره سم په بېلا بېلو وختونو کښې د پېړيو نه را روان دے. د اولس د ژوند خوارېٔ تراخهٔ، ښې بدې، لوړې ژورې او د دوي کړهٔ وړهٔ، خولهٔ په خولهٔ د يوې زمانې څخه بلې زمانې ته منتقل کېږي او پاتې نسلونه پرې د خپل قوم د زړو روايا تو، کلتور او فرهنګ نه خبرېږي، چې اولسي ادب بللے شي.

اولسي ادب په پښتو ادب کښې هم د زرګونو کالو تاريخ لري. ځکه چې پښتانهٔ هم

* Ex. Ph.D Scholar of Pashto Department University of Peshawar

په دې خاوره په پېړیو پېړیو راهسې اباد دي او اکثره پښتانهٔ په غرئیزو علاقو کښې مېشتهٔ دي پښتانهٔ په ژوند مئین غېرتي او د پښتو نه ډك خلك دي. د ژوند په ارتقائي سفر کښې د مخلتفو مرحلو نه تېر شوي دي او تر دا دمه را رسېدلي دي، خو ولې په دغه سفر کښې پښتانهٔ د ډېرو سختو حالاتو نه را تېر شوي دي. مختلفو یرغلګرو پرې حملې هم کړي دي او په کلونو کلونو ورسره جنګېدلي هم دي. خو پښتانهٔ ئې د خپلې خاوړې نه بېدخله کړي هم نهٔ دي، خو بل اړخ ته په پښتنو کښې داسې اتلان هم پیدا شوي دي، چې د افغانستان نه واخله تر هندوستان پورې ئې خپل حکومتونه قایم کړي دي او خپل ننګ او مېړانه ئې نړۍ ته ښودلې ده.

خو ددې هرڅهٔ باوجود پښتنو د خپل شیرین او رنګین مزاج په وجه خپل ژوند ښکلے او ښائسته کړے دے. په سترګو کښې روماني خوبونه، په سینو کښې مئین زړونه او په زړونو کښې د عشق او محبت دردناکې خوږې او پښتنې نغمې هم لري. دوي د حجرو محفلونه او مجلسونه هم اباد کړي دي. اولسي شاعري په اړه پروفېسر داؤدخان داؤد لیکي:

> "اولسي شاعري د هر ملك او قام د تهذیب، تمدن او ثقافت بنیاد دے. په دې کښې د یو ملك یا د یو قم د ویني رنګ د خاوړې لوئي د مئیو خوند، د ژبې خوږلت، د غرونو غرور د دریابونو او نهرونو شور او زوږ، د میدانونو ډاګو او مېرو ښکلا، د چمنونو، باغونو او فصلونو تازګي، د پولو او لمنو شینکے، د کرونده ګرو او مزدورانو د تندي خولې، د ګودر د غاړې مستۍ، د سپوږمۍ او ستورو تماشې، د زلمو او پېغلو د ځوانۍ پټ پټوني، د بارانونو او طوفانونو موسیقي او د هوا نزاکت او ګډا شامل دي. یعنې دا یو خاص شاعر ذاتي او انفرادي خیالات نهٔ دي، بلکې دا د ټول اولس د اجتماعي ژوند عکس ده"**(1)**

د پورته حوالې نه به تاسو ته څرګنده شوې وي، چې په اولسي شاعرۍ کښې د ژوند کړهٔ اوړهٔ هرڅهٔ په ډېر ښکلي او مختصرو الفاظوکښې بیان شوي وي. اولسي ادب په پښتو کښې منظوم او منثور ادب دواړو کښې پوره برخه لري په منثور ادب کښې قیصۍ، داستان او متلونه او په منظوم کښې ټپې، چاربېتې، لوبې، داستانونه، بدلې، د ښادۍ سندرې، د اټن نارې، اولس نندارې، د مروتو کسرونه، غړونه، ویرنې او بګټۍ راځي. د

پښتنو د تخليقي توان، اجتماعي ذهانت، اولسي تاريخ، پښتو شعر پېژندنې او دغسې د نورو خبرو په لړ کښې د اولسي ادب دغه منظومه برخه ډېر ارزښت لري. ځکه چې اولسي شاعري د اولس د عادتونو، رسمونو، رواجونو، عقيدو او ژوند په اړه د دوي د عمل او ردعمل آئينه ده. د خپلې موضوع مطابق به زۀ په دې باب کښې په ټپه، چاربېته، سندره او بدله بحث کوم. په دې کښې به زۀ هغه ټپې، سندرې، لوبې او چاربېتې راوړم، په کومو چې د خدائي خدمتګار تحريک اغېزې راغلي دي.

ټپه د پښتو اولسي شاعرۍ قديم ترين او په زړۀ پورې صنف دے، چې څومره د پښتو تاريخ زوړ دے دومره ټپه هم زړه ده. دا مشهور او ساده صنف د هئيت په لحاظ د دوو مصرعو نه جوړوي چې يوه مصرعه ئې لنډه او بله اوږده وي. دې ته مصرعه او لنډۍ هم وئيلے شي. اوله مصرعه ئې نهۀ سېلابه او دويمه مصرعه ئې ديارلس سېلابونه وي. ټپې ته لنډۍ ځکه وئيلے شي چې ټپه نېغ په نېغه اثر کوي. داسې اثر لکه چې لنډے (مار) چاله ټک ورکړي. په پښتو ادب کښې د ټپې شاعر معلوم نۀ دے او په زرګونو ټپې موجودې دي خو دا اندازه ئې نۀ کېږي چې دا ټپه د کوم شاعر ده. که چرې يو شاعر يوه ټپه جوړه کړې وي خو د وخت تېرېدو سره سره هغه ټپه په خلکو کښې مقبوله شوي هم وي او په بله علاقه کښې ئې په جوړښت کښې هم بدلون راغلے وي او شاعر ئې ورك شوے وي. په ټپه کښې شاعر د خپل نوم يا تخلص ذکر نۀ کوي، په پښتنه معاشره کښې زياتې ټپې د ښځو د خولې نه وتلي دي او هم هغوي سره منسوبې دي. د ټپې په اړه ډېرو پوهانو ليکونه کړي دي او خپل نظرونه ئې وړاندې کړي دي. د پروفېسر افضل رضا په وينا:

> "د پښتو په عوامي سندرو کښې د ټولونه مخکښې ټپه يا لنډۍ راځي. د قدامت په لحاظ ټپه د پښتنو عوامي سندرو يو ډېر زوړ نوم دے"(2)

په پښتو کښې د ټپې په مقبوليت، اثر او تاثير په حقله پښتون دانشور، نقاد او محقق قلندر مومند وائي:

> "ټپه د پښتو ژبې خپل تخليق دے او ددې وجود په نورو ادبونو کښې بيخي مفقود دے. هم دا يو صنف دے چې د قندهار نه تر اټکه د پښتنو مشترکه ملي سرمايه ده. چرته ورته ټپه او چرته ورته لنډۍ وئيلے شي. ددې وجه ---- په باره کښې دا قياس کېږي چې ټپه (ټاپې) مهر ته وائي. چونکې پښتانۀ په هره خبره کښې ټپې د متلونو په حېثيت استعمالوي ځکه نو دې ته ټپې وئيلے شي يا دا چې ټپار لاسونو پړقولو ته هم

وائي. چونکې د ټپې د ساز سره د ټپې په سر ددې په سر اولے لاسونه هم پړقولے شي" **(3)**

د پورته ذکر شوې حوالې نه دا ثابته شوه چې ټپه د ټولو پښتنو شريك ميراث دے او د نورو قومونو په ادب کښې ټپه نشته. دا د ټولو پښتنو شريك صنف او پيدوار دے او په هر دور کښې پښتنو ښځو، سړو، ځوانانو، بوډاګانو او وړو بې شمېره ټپې وئيلي دي.

"د عشق او عاشقۍ او سوز و ګداز د فطري جذباتو او وارداتو نه علاوه هغه ټبې چې د سياسي تحريکونو پيدوار دے چې د ژوند جوش او جذبې نه ډکې دي او ددې ټپو د يو يو ټکي نه د سامراج دښمنۍ او خپل ملي غېرت ويني ځاځي" **(4)**

د پښتون د مزاج، فکر او جذبې ښودنه او ترجماني کوي، ځکه چې ټپه د پښتون اولس د نازکو احساساتو او عواطفو د اظهار يو ډېر فطري صنف دے. د پښتو د عامې او خاصې شاعرۍ يو صنف هم ورسره سيالي نۀ شي کولے. ښاغلے همېش خليل ليکي:

> "ټپه زمونږ د شفاهي ادب د ټولو صنفونو مور ده داسې برېښي چې د پښتون ملت د پيدائښت او بيا د ځوانۍ مرحلې ته د رسېدلو سره هغه د تودو جذبو او احساساتو د رالړزېدلو په نتيجه کښې تخليق شوې ده" **(5)**

د ټپې په حقله ډېرو پوهانو خپل نظرونه شريك کړي دي. دغه ټول د قدر وړ دي او د دوي ويناګانو څخه معلومېږي چې ټپه د پښتنو په ژوند او تاريخ څومره زاړۀ تاثرات لري.

ټپې په خپله غېږه کښې د پښتني ژوند ټول کړۀ وړۀ په داسې خوندور انداز کښې ځاے کړي دي، چې بنده ورته ګوته په خوله پاتې شي. داسې يو موضوع به نۀ وي چې ټپې ورله پخپله لمن کښې ځائے نۀ وي ورکړے. که هغه حجره، جماعت، مکتب، اسلام، آزادي، سياسي، معاشرتي مسائل، حسن و عشق وغېره داسې ډېر زيات موضوعات دي چې ټپې پرې وئيلے شوي دي.

پښتانۀ په هر دور کښې د ډېرو سختو حالاتو سره مخ شوي دي کوم بهرني يرغلګرو چې پرې حمله کړې ده پښتانۀ ورسره جنګېدلي دي او د خپلې خاوړې دفاع ئې کړې ده. دغه جنګي حالات هم په پښتو ټپه کښې بيان شوي. د مغل بادشاه اکبر په زمانه کښې د "روښاني تحريك" مشر چې دا تاريخ رقم کړو چې ددغه دور د حالاتو عکاسي ترې کولے شي.

د مغل ظلم به لنکور کړي
چې پير روښان توره په لاس جنګ له ورځينه

د کال **1880**ء د میوند په جنګ کښې د میوند ملالې ټپې هم یو تاریخ حېثیت لري چې د آزادۍ حاصلولو دپاره یوه پښتنه مېرمن خپل لالي ته وايي:

که په میوند کښې شهید نه شوې
ګرانه لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه

دغسې د پښتنو په سیمو په بېلا بېلو دورنو کښې مختلفې ټپې تخلیق شوي دي د وخت تېرېدو سره سره ئې پخپله لمن کښې نوي نوي موضوعاتو ته ځائے ورکړے دے. په شمله صدۍ کښې چې د هندوستان په خاوره د پېرنګي استعمار خلاف د آزادۍ تحریکونه ډېر په زور او شور وو په دغه تحریکونو کښې یو تحریک خدائي خدمتګار تحریک هم دے کوم چې د پېښور نه شل میله لرې د هشنغر د خاوړې نه پورته شوے ؤ، چې په لږ وخت کښې تر لرې لرې ځایونو خور شو. ددغه تحریك سره د محکوم اولس عمومي رحجان د آزادۍ په لور اوګرځېدو. د خدائي خدمتګار تحریك اغېزې د پښتنو په اولسي ادب هم را ښکاره شوې دغه شان په پښتو ټپه کښې د آزادۍ ژوند او د غلامۍ نه د خلاصون بېلګې لېدل کېږي.

د آزادۍ ناوې جوړېږي
هر یو زلمے نعرې وهي زما دې شینه (6)
دغه مو وخت دے زلمو پاڅئ
د آزادۍ په ناوې ګرم دي جنګونه (7)

ددغه دور ټپې خپل خاص رنګ او آهنګ لري. دغه وخت کښې د خپلې خاوړې نه د انګرېز شړلو دپاره پښتانهٔ په خدائي خدمتګار تحریك کښې شامل شوي وو او په ګډه ئې د استعمار خلاف د آزادۍ مبارزه کوله. دغه وخت کښې په پښتنو کښې سیاسي شعور هم بیدار شوے ؤ او تعلیم اګاهي هم ورکول کېده. دغسې پوهې او سیاسي شعور هر ذهن ته د آزادۍ خبر ورکړے وو. که ځوان ؤ که ووړکے، که جینۍ وه که ښځه، هر چا د آزادۍ نغمې او ټپې وئیلې. د کال **1931**ء په پښتون مجله کښې د "یوې خور" چې خپل نوم ئې نهٔ دے لیکلے دا مصرعې چاپ شوي دي.

فخر افغان سنګ فارس دے
چې په کوم ملك کښې تشریف راوړي سرهٔ زر شینه
بندي سري به ټول آزاد شي
که پښتون واوري د باچاخان تقریرونه

سرحد زمونږ د پښتنو دے
عبث پرې خله انګرېزان جګړې کوينه
د آزادۍ شمع بلېږي
زلمي پشان د پتنګانو پرې ورځينه
پښتنو ټول په اتفاق شئ
ټينګ په جهاد شئ چې وطن مو آزاد شينه
د قربانۍ باران پرې وکړئ
چې خدائے زرغون د آزادۍ کړي سرۀ ګلونه
د قربانۍ باران که وشي
د آزادۍ چمن به وسپړي ګلونه
جنګ د وطن په آزادۍ دے
زلمو را واغوندئ د کدر لباسونه (8)

پورته ذکر شوې ټپې هم د غلامۍ د دور عکاسي کوي. دغه پېغله څومره په بېباکۍ او جرأت سره وايي چې د سرحد خاوره زمونږۀ ده او تل به زمونږ وي پېرنګيان پرې عبث جنګونه کوي. دغه پښتنه پېغله ټولو پښتنو ته د اتفاق درس هم ورکوي او د آزادۍ دپاره شاه زلمي قربانۍ ته هم تياروي ـ د دورې ترمخه که د پښتو ټپه د حسن و عشق، ګودر، مازيګر، جانان، مستي، ښائست، کليوال رنګونه، حجره جماعت، غم او ښادي داسې ډېرو موضوعاتو نه ډکه وي، خو د کال **1900**ء نه را دېخوا دور کښې ټپې خپله غېږه آزادۍ ته پرانسته. دا ټپې د دغه دور د قدر وړ ټپې دي.

وطنه تانه دې قربان شم
ستا په غېرت دې سر له تنه مې جدا شينه
تۀ چې د غېر پنجه کښې ګېر ئې
روح مې په تن کښې يو ګهړۍ نۀ خوښوينه
روح به مې ولې تن کښې خوښ شي
چې د بل ملك خلك په تا کوي عيشونه
غلام دې نۀ پربېږدم د غېرو
د آزادۍ زما په زړۀ کښې ده ستا مينه
هغه هم ځوان وائي خپل ځان ته
چې د وطن دپاره سر نۀ زاروينه
چې ئې خپل قوم د غېر غلام وي
نۀ دي پکار چې په بستر کوي خوبونه
چې اوبۀ خور ئې وينې نۀ شي
تل به وي مړاوي د سرحد د باغ ګلونه
"فخر افغان" سپين ږيرے مخکښې
ځوانان پسې د آزادۍ جنګ له ورځينه
هر يو زلمے ډك د غېرت دے
غلام وطن د غلامۍ نه خلاصوينه
فولاد سپاهي د باچاخان دے
غلامي ځکه په سرحد کښې نۀ پرېږدينه (9)

دا هغه وخت د حالاتو نه هم خبروي او د خان عبدالغفار خان (باچاخان) ننګ، غېرت

هم مونږ ته په ګوته کوي، چې د آزادۍ په جنګ کښې د ټولونه مخکښې ولاړ دے.

دغسې 1930ء کال ډېر خونړے کال دے. هم په دې کال په قيصه خوانۍ پېښور او هاتي خېلو کښې او سپين تنګي کښې د خدائي خدمتګار ډېرې وينې توئې شوې دي. په سلګونو پکښې شهيدان شوي دي په زرګونو زخميان شوي دي، خو هغوي خپله مبارزه نۀ ده پرېښودې. د خدائي خدمتګارانو به په پښتونخوا کښې د انګرېزانو په شرابخانو حملې کولې او دا شرابخانې به ئې بندولې، خو انګرېزانو به په دې کار بد ګڼلو او ددې په بدل کښې به ئې خدائي خدمتګاران وهل ټکول او ډېر ظلم بربريت به يې پرې کولو. په دې د فضل الرحيم ساقي مصرعې د (1930ء خوني کال) د لاندې په پښتون مجله کښې چاپ دي چې په دې مصرعو کښې يو خدايي خدمتګار زلمے خپل پلار او مور سره مکالمه کوي او اجازت ترې غواړي. مور ورله اجازت ورکوي او د چارسدې پيکټينګ له روانېږي۔

پلاره رخصت له تانه غواړم
د قام په ننګ د چارسدې پيکټينګ له ځمه

بچيه! کښېنه په قلار شه
په سنګينونو شاه زلمي سوري کوينه

بابا د خپل وطن دپاره
زلمي مدام په وطن وينې تويوينه

زويه سپاهيان هلته ولاړ دي
په کوتکونو سر خپو شان کوتره کوينه

بابا که تانه زۀ پيدا يم
پوټې پوټې به د اسونو پښو کښې شمه

بچيه ډېره بې شرمي ده
جامې ترې اوشلوي بربنډ ئې اودروينه

بابا حيا د غلام نشته
بربنډ ترې ښۀ يم که څوك شال پسروينه

بچيه لار د ورتلو نشته
ټول بازارونه ډك له فوځ پوليس نه دينه

مونږ په کوڅو کوڅو به ورشو
شراب خانې سره به ځان ور زړوند کړونه

پردي کورونه دي اے زويه!
د پښتنو ښځې ضرور ستر کوينه

بابا دا هغه ورځې نۀ دي
مونږه کوټو کښې خويندې ميندې پټوينه

بچيه زۀ ترې ښۀ خبر يم
سرخپوش په ډنډ کښې د متيازو ډوبوينه

بابا نن ورځ د امتحان ده
زلمي د قام دپاره هرڅۀ قبلوينه

باباجي دا خبرې پرېږده
نامرده ښۀ يم غلامان نۀ زياتوومه

بچيه سرې جامې له پرېږده
انګرېز الوان د ټانکو اسپونه شلوينه

سبا لـه راشـه تماشـې لـه | بابـا جي مـونږ ورتـه څرمنـې سـرې کوؤنـه
چې اوربـدونکي نـۀ ئـې زويـه | مـور لـه دې ورشـه چې دعـا درتـه کوينـه
مـورې درکړے تالـه خدائے يم | اوس مې د خدائے په نامه پرېږده جنګ لـه ځمه
بچيـه ځـه الله دې مـل شـه | زمـا دعـا بـه همېشـه درسـره وينـه
بچيـه پاسـه نيمـه شـپه ده | سـرخپوش راغلـي دي نعـرې درتـه وهينـه
سـلام علـيکم زۀ رخصـت يـم | سـبا همزولـو تـه مـې وايـه سـلامونه (10)

دې نه علاوه د پښتنو ښځو به هم ټپې ليکلې او په پښتون مجله کښې به شائع کېدلې. په دغه ښځو کښې الف جان خټکه او سيده بشریٰ بېګم هم شاملې دي. د "س ب ب" په نوم به ئې په "پښتون مجله" کښې خپل کالمونه، نظمونه او ټپې چاپ کولې. مونږ مخکښې ذکر کړے دے چې د ټپې شاعر نۀ دے معلوم او نۀ د چا د نوم سره ټپې منسوب دي خو د خدائي خدمتګار تحريک په دوران کښې چې کومو شاعرانو ټپې ليکلي دي، نو د هغوي د نوم سره چاپ شوي دي، چې د هغې نه مونږ ته د ليکوال پته په اسانه څرګندېږي. "س ب ب" هم د خپل نوم سر ټپې ورکړي دي، چې دلته ئې رانقل کوو.

خدايـه! اواز د جـرس راکـړې | چـې قـافلې پـه خـوب اودۀ بيدارومـه
خاونـده مـا د بـاغ مـالي کـړې | چـې پـه ديـدن د ګـل بلبـل خوشـحالومه
خاونـده مـا بـاد د بهـار کـړې | چې پـه خـزان مـړاوې غنچـې تـازه کومـه
خاونـده مـا هغـه باغبـان کـړې | چـې سـرۀ ګـلاب د زړۀ پـه خـون مهالومـه
خاونـده شـوق د پتنـګ راکـړې | چـې د وطـن پـه شـمع تـن اوسـوزومه(11)

دا هغه ټپې دي چې د غلامۍ نه کرکه، نفرت او د آزادۍ دپاره پېغام ورکوي. ددې دور په ټپو کښې په آزادۍ هم ډېر زور راوړي او عام اولس کښې د آزادۍ حاصلولو دپاره غېرت هم را لړزوي، لکه دا ټپه:

ټول خاندان به دې تباه کړي
کۀ دې په قوم کښې يو غلام وزيرېدونه (12)

کله چې خدائي خدمتګار تحريک ډېر په زور او شورۀ، نو انګرېزانو هم خپل ظلم زور زيات کړو. د خدائي خدمتګارو کورونه به ئې لوټ کول، په لښتو، ډانګونو به ئې وهل، مخونه به ئې

ورلـه تورول، پـه جيلخانو کښې بـه ئې بندول، او داسې ډېر قسما قسم ظلمونـه بـه ئې ورسره کېدل، چې دوي د تحريك نه واوړي. فضل الرحيم ساقي دا حالات داسې بيانوي:

"پـه مئ 1931ء کښې د پړانګو او چارسدې معاصره شروع شوه چې تر يويشتو ورځو جارې وه پـه لارو کوڅو کښې بـه د رسالو سوارهٔ سپاهيان ګرځېدل. څوك چې بـه ئې د کوره بهر وليدو نو وهل بـه ئې. اذانونه ئې هم بند کړل خلق د لوږې نـه تنګ شول. يـو زميندار د کور نه غلې را ويستلې او پـه عـامو خلکو ئې ويشلې. د پړانګ چارسدې ممـوديز خلك بـه ئې پـه سخته ګرمئ کښې پـه تودو شګو کښې بربنډ څملولي وو. بلکې پکښې بـه ئې ښخ کړي هم وو، چې مـونږ تـه خدائي خدمتګار راکړئ او د باچاخان د تحريك نه توبه ګار شئ خو د پښتنو مرګ قبول وهٔ خو دغه کار تـه ئې غـاړه نهٔ ايښوده. آخر پـه دويشتمه ورځ دغه معاصره پورته شوه او اتمانزو کلي محاصره شو. دغلتـه فـوځ پـه دفترونـو اور پـوري کړو او خـدائي خـدمتار ئـې د بالاخـانو ښـکته راوغورځول. د کلي خانان به ئې راويستل او توپونه به ئې مخکښې ورته اودرول چې توبه ګار شئ چې بيا به د باچاخان مرسته نهٔ کوئ"(13)

ځکه خو خدائي خدمتګار "تورسم کاکا" پـه ټپه کښې وايي:

سرخپوش ده د اور د ذاته
هله سرخپوش شه چې د اور طاقت دې وينه(14)

خدائي خدمتګار تحريك کښې به چې څوك هم غړے جوړېدو هغهٔ به دا سوګند پورتـه کولو چې زهٔ به د قوم دپاره هرې سختې ته تيار يم. مونږ چې د خدائي خدمتګار ژوند تـه اوګورو او بيا د هغوي حوصلو ته نظر وکړو، نو دوي د صبر پـه دې جنګ کښې هرې سختې تـه تيـار وو. د وردئ رنګ بـه ئې سور وُ، کلـه چې پـه دې وردو انګرېزانو پابندي ولګولـه او سرې وردئ به ئې او سوزولې او سور رنګ خرڅول ئې جرم اوټاکلو. يوه پښـتنه ښـځه خپـل خاونـد ته وائي:

د جامو رنګ دې سپين ليدے شي
زما د وينو غوټه ورکړه چې رنګ شينه (15)

د باچاخان د تحريك دا خوبي او يـو لويـه ګټه وه چې د ځوانانو سره سره پېغلې هم د قـام جنګ تـه راوتلې وې د آزادئ حاصلولو دپـاره ئې د ځوانـانو سره پـه شريکه مـلا تړلې وه. باچاخـان ئـې دا لـوظ کـړے وُ چې هر څومره سخت حـالات راشي مـونږ بـه ددې تحريك نـه

ورستو نۀ شو او دا ئې هم وئیل چې کۀ زلمي په شا شي نو مونږ پېغلې به تاسره اوږه په اوږه ولاړې یو.

که ننګیالي زلمي په شا شو
فخر افغانه جینکۍ به دې ګټینه (16)
که د زلمو نه پوره نۀ شوه
ګرانه وطنه جینکۍ به دې ګټینه (17)

پښتنې پېغلې تل په خپل وطن سر ورکوي، چې تردې دمه ئې په تاریخ کښې اوچت مقام ګټلے دے. یوه پښتنه تر هغه وخته پورې د وادۀ نوم نۀ اخلي تر کومه وخته پورې ئې چې چنغول د مکار پېرنګي غلام دے. هغې خپل احساسات او جذبات ترک کړي وي او په بدن کښې ئې د آزادۍ جذبې په جوش دي.

د آزادۍ معشوقه وائي
د غلامۍ یار ته خولګۍ نه ورکومه (18)

خپل محبوب چې د آزادۍ جنګ له لیږي نو دا لوظ ورسره کوي چې تر هغې بېرته راستون نۀ شې تر کومه دې د ځان سره د آزادۍ ډالۍ نۀ وي راوړې. د وطن په ننګ ځان شهید کړه خو بې پته کېږه مه.

په تور ټوپک ویشتلے راشې
د بې ننګۍ اواز دې رامۀ شه مئینه (19)

په بل ځاے کښې ورته داسې وائي:

ځان د وطن په شمع اوسو
چې پتنګان دې زیارتونو له راځینه (20)

چې زړۀ بیا هم صبر نۀ شي دغه پښتنه غیرتي پېغله د کفارو خلاف د جنګ اراده کوي.

توره په لاس ټوپک په غاړه
راځه چې دواړه د کفارو جنګ له ځونه (21)

په جواب کښې ورته پښتون ځوان هم داسې وایي:

زما په مخ لاړې راتوکه
که مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلي وینه (22)

د هرې پښتنې دا ارمان وي چې زما ننګيالے جانان تل د ننګ او غيرت شمله هسکه ساتي چې خلك پرې وياړ کوي دا زما فخر او وياړ دے. دا مېرمنه هم خپل محبوب ته په جواب کښې داسې ګويانه شي:

کۀ په سينه دې غلبيل نۀ ؤ
په شا غلبيل شه څه پروا دې نۀ کومه (23)

د قام په ننګ قربانېدو باندې ئې دومره د خوشحالۍ اظهار کوي چې د خپل محبوب د لاس تحفه، د نتکۍ لال هم په خيرات کښې ورکوي.

د نتکۍ لال په پرې خيرات کړم
که مې جانان په دغه جنګ کښې شهيد شينه (24)

دا هغه ټپې دي چې د آزادۍ په جنګ کښې د پښتنو پېغلو او زلمو د زړونو نه راوتلې دي چې د هغه وخت د حالاتو پوره په پوره عکاسي کوي.دا چې کومې ټپې دلته راوړې دا ټولې د هغه دور سره تعلق لري. کوم وخت چې دلته د پېرنګيانو بادشاهي وه او د دوي خلاف د خدائي خدمتګار تحريك مبارزه روانه وه. ددغه وخت په ټپه څکه د خدائي خدمتګار تحريك اغېزې شوي دي، چې دوي د انګرېز خلاف هر ځاے راوتلي وي. جلسې جلسونه ئې کول سختۍ او تکليفونه ئې زغمل. د آزادۍ درس ئې ورکولو د هر چا په خولۀ د آزادۍ نعرې وې. دغه وخت د خلکو عمومي رحجان د آزادۍ ؤ. هم په دغه دور کښې دا ټپې تخليق شوي دي او د خدائي خدمتګار تحريك په اغېز کښې راغلي دي.

# حوالې


1. داؤد، داورخان، پروفېسر، پښتوټپه (تحقیق، تخلیقي مقاله) منظور عام پریس پېښور، **1979**ء مخ، **17**.
2. رضا، پروفېسر، افضل، پښتو عوامي ادب، پښتو مجله، اکتوبر **1986**ء مخ، **16**.
3. میاشتنۍ، لیکوال، پېښور، قلندر مومند، پښتو اولسي سندرې، **1995**ء مخ **19**.
4. هم دغه اثر، مخ **20**.
5. همېش، خلیل، د پښتو ژبې ادبي ورته (مقاله) په سرحدي صوبه وړومبۍ لساني او ثقافتي کانفرس (پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورستي، **1986**ء مخ **184**.
6. بخاري، فارغ، لیشو لوك گیت (اردو) انشاء پریس لاهور، مخ **118**.
7. میاشتنۍ، پښتون (هفته وار) **11** ستمبر **1940**ء جلد **6** مخ **9**.
8. میاشتنۍ، پښتون، جون ، جولائی **1931**ء مخ **53**.
9. میاشتنۍ، پښتون مجله، کرامت شاه فولاد ، **21** نومبر **1939**ء مخ، **40**.
10. میاشتنۍ، پښتون مجله، (مصرعې) فضل رحیم ساقي، جولائی **1939**ء مخ **37-38**.
11. میاشتنۍ، پښتون مجله، سید بشرٰی بېګم، **11** دسمبر **1939**ء مخ **40**.
12. هم دغه اثر، نورسم خان صاحب، **21** جولائی **1939**ء مخ **18**.
13. ساقي، فضل رحیم، خدائي خدمتګار، امن پرنټنګ پریس پېښور، مخ **66-67**.
14. میاشتنۍ، پښتون مجله، **21** جولائی **1939**ء مخ، **18**.
15. داؤد، داورخان، پروفېسر، پښتو ټپه، مخ، **92**.
16. میاشتنۍ ، پښتون، **11** ستمبر **1940**ء، جلد **6** نمبر**1**، مخ **33**.
17. بخاري فارغ، پښتو **ٹوں** گیت اردو، ص **119**.
18. همدغه اثر، مخ **199**.
19. داؤد، داورخان، پروفېسر، پښتو ټپه، مخ **90**.
20. همدغه اثر، مخ **94**.
21. همدغه اثر، مخ **99**.

22. همدغه اثر، مخ 100.
23. همدغه اثر، مخ، 103.
24. همدغه اثر، مخ، 103

# References


1. Dawood, Dawar Khan, prof. Pakhto Tappa, Manzoor Aam press Peshawar, 1979, p17.
2. Raza, Prof, Afzal, Pakhto Awami adab, Pakhto Majalla, October, 1986, P.16
3. Myastinai, Lekwal, Peshawar, Qlandar momand, Pakhto Olasi Sandri, 1997, p.l16
4. Ibid, P.20
5. Hamish, Khalil, Da Pakhto jabi adabi wersa (Maqala) pa sarhadi Soba warombia lesani, Aw Saqafti Conference, Pakhto academy Peshawar University, 1986, p. 184
6. Bukhari, Faregh, Pashto Lkgiet, (Urdu) Insha Press Lahore p118
7. Pakhtoon, (Haftawar) 11, September, 1940, v. 6 p9
8. Ibid, July 1931, p53
9. Pakhtoon, Maishtinai, Kriramat Shah folad November, 1939, p 40
10. Pakhtoon, Maishtinai, (Mesri) Fazal Rahim saqi, July, 1939, p 37-38
11. Pakhtoon, Maishtinai, Syeda Bushra Begum, 11 December, 1939, p 40
12. Ibid, 21 July 1939, p18
13. Saqi Fazal Rahim, Khudai Khedmatgar, Aman press Peshawar, p. 66-67
14. Pakhtoon, Maishtinai, 21 Majlla, 1939, p. 18
15. Dawood, Dawar, Khan, Prof. Pakhto Tappa, . 92
16. Pakhtoon, Maishtinai, 11 September, 1940 v. 6, p 33
17. Bukhari, Faregh, Pakhto Lokgeiet, Urdu p. 119
18. Ibid, P. 199
19. Dawood, Dawar, Khan, Prof. Pakhto Tappa, p. 90
20. Ibid, p. 94
21. Ibid, p. 99
22. Ibid, p. 100
23. Ibid, p.103
24. Ibid, p. 103